د ستراوخواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# لوګر Logar

میاشتنۍ خپرونه

د تاسیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

چهارشنبه د۱۳۹۹ کال د زمري میاشتې لومړی، د ۲۰۲۰ عیسوي کال دجولای دوه ویشتمه

۱

پرله پسې ګڼه (۱۱۳) لومړی کال، دريمه ګڼه

له ابو هریره [رض] نه روایت دی، چې رسـوال الله صـلی الله علیـه وسـلم فرمایلي دي: دمنافق درې نښې دي ؛ چې کله خبرې کوي درواغ وایـي، کلـه چـې وعده وکړي په هغه وفا نکـوي او کـه امانت ور وسـپارل شـي، پـه هغـه کـې خیانت کوي.

## جمهور رییس غني د لوګر ولایت په عمومي ولسي غونډه کې ګډون او وینا وکړه





دچنګاښ ۱۱ مه:
د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رييس محمد اشرف غني لوګر ولایت ته د خپل سفر پر مهال د ولایت مقام اساسي قانون تالار کې عمومي ولسي غونډه کې ګډون او وینا وکړه.
په دې غونډه کې چې د علمای کرامو، مشرانو او متنفذینو، ځوانانو، ښځو، مدني ټولنو او بېلابېلو اقشارو استازو حضور درلود، لومړی د لوګر والي اجمل شاپور د هیواد جمهوررییس او ورسره پلاوي ته د ښه راغلاست ترځنګ وویل، په دې ولایت کې ډېر کارونه شوي، خو لا زیاتې پاملرنې او کار ته اړتیا ده.
هغه د امنیت تامین، د انکشافي پروژو تطبیق، د برېښنا مزو غځولو، د ښارګوټو او د ځمکو ستونزو د حل، د پل علم ښار د ماسټر پلان نهایي کولو، کرنیزو تولیداتو په ځانګړې ډول لبنیاتو ته د پاملرنې، د سړو خونو جوړولو، د دولتي ادارو د ظرفیت لوړولو او لوګر ولایت ته د دویمې درجې ولایت د تشکیل او امتیازاتو ورکولو ته چې وړاندې د جمهور رییس له لوري منظور شوي دي، د پاملرنې غوښتنه وکړه.
وروسته د لوګر ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، مولوي اسدالله، د ښځو په استازیتوب نفیسه هجران، په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو د وکیلانو په استازیتوب شاپور حسن زوی او د مشرانو او متنفذینو په استازیتوب محمد سالم کوچي خبرې وکړې او په مختلفو برخو کې یې خپلې غوښتنې او وړاندیزونه جمهور رییس سره شریک کړل.
هغوی جمهور رییس او ورسره پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ د امنیت تامین، علماوو او جوماتونو، ځوانانو ته د کارموندنې، د ښوونکو د ښارګوټي جوړولو، په مختلفو بنسټونو کې د لوګر ولایت د کادرونو ټاکلو، د لوګر پوهنتون د پوهنځیو زیاتولو، ښځو ته د پاملرنې او د هغوی د ستونزو حل، د سړکونو جوړولو، له ښځینه قشر څخه د ولایت مقام د یوې مرستیالې ټاکلو، ولسوالیو ته د پاملرنې، د ځمکو غصب مخنیوي، د لوی مېلمستون جوړولو، د هوایي ډګر د کار پیلولو، د مس عینک او نورو کانونو استخراج، د برېښنا انرژۍ تامین او د بندیانو خوشې کولو په برخو کې خپلې غوښتنې او وړاندیزونه، مطرح کړل.
وروسته د جمهور رییس لومړي مرستیال امرالله صالح خبرې وکړې او د امنیتي او دفاعي ځواکونو شهیدانو او په لوګر ولایت کې د وروستیو پېښو شهیدانو او د کرونا له امله د دې ولایت د وفات شویو مشرانو روح ته د دعا ترڅنګ وویل، د ګردېز-کابل لویې لارې امنیت باید تامین شي او له خلکو سره امنیتي تړون ولرو او همدا راز د ازرې ولسوالۍ لاره باید نه یوازې جوړه، بلکې پرانیستل شي.

پاتې په دویم مخ کې





## سرلیکنه...

## لوګر ته د ولسمشر راتګ؛ ژمنه تر عمله !

لوګر ته د ولسمشر راتګ چې دامنیتي وضعیت د ارزونې په موخه ترسره کړل، د دې ولایت له ځایي او سیدونکو، علماوو، مشرانو، ځوانانو، میرمنو او دلوګر له حکومتي چارواکو سره لیده، کاته او ارزښتمنه وینا یې وکړه، چې دخلکو هیلې یې دلوګر د امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو په برخو کې راژوندۍ کړې.
له ولسمشر سره د ده لومړی مرستیال امرالله صالح او دملي امنیت شورا سلاکار ډاکترحمدالله محب هم په سفر کې ملتیا کړې وه. لوګري ولسونو یو لړ شته ستونزې او وړاندیزونه چې دوی یې خپل ولایت کې لري ولسمشر ته وړاندې کړل او له هغه وروسته ولسمشر خپله ارزښتمنه وینا واوروله ولسمشر دلوګر دامنیتي وضعیت په اړه خبرې وکړې، وویل، چې لوګر ولایت ته دامنیت په اړه جدي پاملرنه کیږي. همدا راز دلوګر دښېرازۍ او پرمختګ په موخه دکانونو استخراج، دبرېښنا دمزو غځول، یاد ولایت ته د میلمستون ودانۍ جوړول، د ولایت دمرستیالۍ لپاره دوه تنه مرستیالان، چې یوه به یې ښځینه وي دمنظورۍ ډاډ ورکړل، چې دښځینه مرستیالۍ ژمنه یې عملي شوه.
ولسمشر دا هم وویل، چې لوګر به یو ځلې بیا دکابل کندو او دروازه واوسي؛ نو که چیرته دغو دو ټکو ته د حکومت پاملرنه زیاته شي، دا به نه یوازې دلوګر ولایت لپاره مهم او ارزښتناک وي؛ بلکې ورسره به دهېواد کرنیز تولیدات وده او دپلازمینې کابل امنیت به لاپسې ښه شي، ځکه لوګر پلازمینې کابل ته نږدې ولایت دی، که چیرې د لوګر امنیت ښه شي، نو ضرور دکابل امنیت هم تامیندلای شـي.
دویمه خبره د کرنیزو تولیداتو ته پاملرنه ددې لپاره اړینه ده، چې لوګر ولایت ډېری شاړې او دښتیزې ځمکې لري، نو دیادو ځمکو لپاره که عملیاتي پلان او طرحه په نظر کې ونیول شي، بزګرانو او ځایي اوسیدونکو ته کرنیزې ځمکې ورکړل شي، هم به دکاري بسیاینې لپاره ښه پیلامه او هم به دکرنیزو تولیداتو کچه په لوړولو سره وارداتي سیستم په رامنځته کېدو د دولت په عوایدو کې بېساري بدلون مخ په زیاتېدو شي.
لکه څنګه چې اوس وګړي د ډېرو ژمنو مخالف دي، دوی له حکومتي لوړپوړو مشرانو دعمل غوښتنه کوي، چې په خپلو کړو ژمنو ودرېږي، څو دخلکو ذهنیت او پام دهېواد خاورې او شته نظام ته واوړي او ولس د خپل نظام په جوړونې کې غښتلي ګامونه واخلي.
دهېواد دبیارغونې او نورو برخو کې د دولت لخوا سولې ته لومړیتوب ورکول دخلکو یوازینۍ غوښتنه ده، چې پرته له سولې هیڅ پرمختګونو ته لاره نشي هوارېدلای، بلکې د سولې په شتون هرڅه دامکان وړ وي، ځکه افغانان دخپل ژوند او هوساینې لپاره په هېواد کې دآبرومندانه او سرلوړۍ ډک ژوند غوښتونکي دي. نور نه غواړي، چې په بهرنیو هېوادونو کې د پردیو خلکو تر حکم لاندې کار وکړي، بلکې دا ثابت ګڼي، چې دیوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره د کور په دننه کې بې مینته واوسي. نو لازم یې ګڼو، چې دجګړې ښکیلې لورې دې د افغانانو هیلو ته دقدر په سترګه وګوري او د سولې پروسې سره یو ځای شي.
نورې خبرې نه اوږدوو، بلکې په لنډه توګه دخلکو هیلو ته د رسیدو لپاره د ولسمشر ژمنې په عمل کې دپیاده کېدو په تمه یو، چې کومې ژمنې لوګري ولس سره کړې دي خلک یې دغوښتو په هیله دي او ولسمشر دې په اړوندو سکتوري خدمتونو فشار راوړي، څو کړو ژمنو ته یې دعمل جامې واغوندي، چې دولسونو باور په حکومت لا زیات او حکومت وکولای شي، چې غوره خدمتونه هېوادوالو ته وړاندې کړي.

**ثریا دخدای پامان**

**مدیر**

## کارساخت چهاربند کوچک آب در لوگر توسط محمداجمل شاه پوروالی این ولایت آغازگردید

درمراسمی که به همین مناسبت در قریه سیاه کوه ولسوالی محمدآغهٔ لوگر با اشتراک محمد اجمل شاه پور والی لوگر، سید قریب الله سادات عضو شورای ولایتی، تورن جنرال امیرجان ناصری رییس امنیت ملی، مل پاسوال احمد فیصل الله داد قومندان امنیه، عصمت الله ستانکزی وارسی کننده ولسوالی محمد آغه و بزرگان قومی راه اندازی شد، نخست انجنیر شفیق احمد جهانیار رییس حوزهٔ فرعی دریایی لوگر پیرامون پروژه ها معلومات دادو گفت: این چهار پروژهٔ بند های کوچک آب(چکدم) در ولسوالی های محمدآغه، چرخ، خوشی ومرکز لوگر به ارزش نزدیک به دوازده میلیون افغانی از بودجه اداره ملی تنظیم آب در مدت چهار ماه ساخته می شود. به گفته وی هدف از ساخت این بند های کوچک آب جلوگیری از ضایعات ومهار آب است.
محمد اجمل شاه پور والی لوگربا تبریکی این پروژه ها به باشندگان محل، ساخت بند ها را در مهار کردن آب های طبیعی نهایت مهم وارزنده عنوان کردو آن ها را یک گام خوب در راستای رشد اقتصاد مردم خواندو افزود که جلوگیری از ضایعات آب ازجمله اولویت های کاری اداره محلی است.

بقیه درصفحه چهارم

## درشهرپل علم به هدف وقایه وجلوگیری از شیوع ویروس کرونا کمپاین آگاهی دهی راه اندازی شد

ریاست اطلاعات وفرهنگ، ریاست مبارزه با حوادث طبیعی و تعدادی ازجوانان بمنظور جلوگیری ازشیوع ویروس کرونا واتخاذ تدابیر پیشگیرانه صدها ماسک به شهروندان پل علم به تاریخ 18 سرطان طی راه اندازی کمپاینی توزیع نمودند واز مردم خواستند که در امر مبارزه با ویروس کووید نوزده به نکات صحی توجه جدی نمایند .



عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر می گوید که درجریان کمپاین درحدود هشده صد ماسک به شهروندان پل علم توزیع شد.

آقای تسل اضافه نمود که ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر از زمان شیوع ویروس کرونا درلوگر، چندین برنامه های متختلف آگاهی دهی را به منظور اتخاذ تدابیر وقایه وی، جلوگیری از شیوع ویروس کرونا وبلند رفتن سطح آگاهی مردم راه اندازی نموده است که طی این کمپاین ها صد ها برگه آگاهی دهی، نصب پوسترها، صابون وصد ها ماسک به شهروندان لوگر توزیع گردیده است.



**هموطنان عزیز! بمنظور جلوگیری از مرض ویروس کرونا، از دست دادن، روبوسی و بغل کشی خود داری نمایید!**